درشرایطیکه مسعود ورباني براي گرفتاري وسرکوب مجاهدین عرب به محافل صهیونیستي تعهدمیسپارند وحتي یك مجاهد عرب را دیگر درپهلویشان نمیبینند دیگراین حرف آنها که سران اخوان المسلمین ازرژیم ائتلافي حمایت کرده اند عجیب ومسخره جلوه میکند.

بخبرباشید.

نامه هاي وارده

کاغذهاي رنگهٔ روسي

باز هم یك خواننده ناشناس شهادت درنامه یي بعدازآنکه باخلوص ومحبت بي شایبهٔ شان ماحقیرانراخجل ساخته اند، دست دعا بلند نموده ومیگویند : " خداوندا ! به آنانیکه دین ،جهاد وخون یك ونیم ملیون انسان رافداي تعصبات منطقوي وکاغذهاي رنگه روسي میکنند هدایت نصیب کن ... "

تا حق راازباطل فرق نموده ،درصف حق ایستاده وعلیه باطل قیام نمایند ،واگرقابل هدایت درعلم قدیم تونباشد ماراازشرآن نجات داده تافرصت براي پاك کردن اشك یتیمان آن شهدا بیابیم.

ثانیاً تحریرمیدارم که چندي قبل نامهٔ برایتان ارسال نمودم که درآن ازخدمات ارزندهٔاستاد پروفیسور سیاف ازتاریخ هجرت اش ازراه تورخم تاامروز مخصوصاً درمعاهدات اسلام آباد . پشاور وجلال آباد یادآورگردیده بودم وازمقام رهبري حزب امید نموده بودم تادرهدفمیکه او دارد اوراکمك نمایند اماشماآنرانشرنه نمودید نمیدانم شماباآن رادمرد بزرك چه دارید؟

ثالثاً تحریرمیدارم که درشماره (۷۲۱) برادر سیدمحمد ازمردان نامه یي داشت "جهاد بیرته له سره شروع دي

. احساسات عالي ونظر خوب برادرماقابل قدراست ولیکن باتفاوت اینکه باید جهاد تااستقرارحکومت اسلامي ادامه یابد.

#

شهادت

برادرگرامي ع . ح .! دست ما قلع شود اگر ازنامهٔ شما خبر داشته باشیم ویاباآن رادمردشماکدام عنادي داشته باشیم.

ازاحساسات نیك شمااستقبال میکنیم به همکاري ومکاتبه تان ادامه بدهید.

خوشحال باشید

پیمان شوم جبل السراج

خواننده گرامي شهادت آقاي محمد حکیم "جعفري " درنامه یي ازروحیه اخوت ومحبتي که درابتداي جهاد بین مجاهدین تنظیم ها موجود بود یادآوري نموده مي گوید : " هرمجاهد برادرمجاهد دیگر بودودرمقابل دشمن سفاك وبي ایمان جهاد میکردند تااینکه ملت ستم کشیده خود را ازچنگال شرآن ها وکمونستهاي خون آشام نجات دادند.

"

آقاي جعفري میگوید ، کمونیستها درفرجام شکست باز هم به حیله ومکردیگرمتوسل شده یك تعداد برادران فرصت طلب مارافریب داده وبناي دوستي راباآنها گذاشتند که حاصل آن همان ائتلاف نامقدس وشرم آور جبل السراج میباشد . به تاسي وتعقیب همین معاهده بودکه خانه جنگي وبرادرکشي درافغانستان شروع شد . کمونستها پیوسته دربي آنند که جناحهاي مختلف جهادي را تاسرحد آخر به اثر جنگ داخلي ضعیف بسازند وزمینه را براي رویکار شدن دوباره خود فراهم نمایند کمونیست ها وسایر عناصر مخالف جهاد با این جنگ ها ویا این خرابکاري ها ازملت قهرمان افغانستان بخاطر آنکه انقلاب اسلامي رابه پیروزي رساند میخواهند انتقام بگیرند.

خواننده ما دراخیرهمه مسلمانهاي باد کشور را طرف خطاب قرارداده میگوید: "اي برادران هوشمند، نگذارید دشمن از سادگي وضعف مااستفاده کند، کمونیست ها راموقع ندهید وآنها رادوست ومعاون خود نگیرید.

بااحترام

دشهادت اخبارولوله

قدرمن وروررفضل قادره انديوال « لیك دي راورسید اوسرتر پایه موترنظرتیرکړ، سلامونوته دي علیکم السلام ، داچي دشهادت ورځپاڼي سره مینه لري اوهره اووني ورته پنځه کلداري په جیب کي ساتي ، منته ، اخبارچاپیږي دهمدي لپاره چي خلك یې ولولي .

وروره ! ترکومه چي ستادلیك په دویمه برخه پوري اړه لري اوځیني خلك په حزب اوحکمتیارصاحب توروته لګوي، دهغي په هکله بیله دي چي موږدرته ځواب ولیکوته پخپله واقعات اوحودات ترنظرتیرکړه، ممکن پخپله قانع شي اودادرته څرګنده شي چي اصل حقیقت څه ډول اوددي شوموواوخرڅ شووخلکوتوروته څومره له حق نه لیري دي، بله داچي ته دشهادت اخبارلولي پخپله یکي دتاپوښتني ځوابیږي .

مسئولیت های مربیون درقبال اولاد

مسئولیت تربیهٔ ایماني

ترجمه: "وحدتیار"

۱- آغاز کلام اطفال به کلمه توحید:
روي الحاکم عن ابن عباس رضي الله عنهماعن النبي صلي الله علیه وسلم انه قال: افتحواعلي صبیانکم اول کلمة بلااله الاالله
حاکم ازطریق ابن عباس رضي الله عنهما روایت مي کند پیامبرعلیه السلام فرمودند که اولین کلمه ایکه باآن اطفال خویش رابه سخن گفتن عادت میدهیدکلمه لااله الاالله باشد.

به همین ترتیب دربحث هاي گذشته هم ذکرکردیم که بعدازولادت درگوش راست طفل اذان وورگوش چپش اقامت باید صورت گیردکه ازین هردوتعلیمات اسلام چنان برمي آید که بایداولین کلماتیکه گوش اطفال رادق الباب مي کند وبه همین ترتیب اولین کلمه ایکه اززبان آنهابیرون مي شود بایدکلمات توحید باشدتاازهمان آوان صباوت توحید درذهن ودماغ آن هاتلقین گردیده نقش بنددودرسن شعوروتعقل مطابق تقاضاي آن زندگي خودرا عیارنمایند.

۲- تعلیم احکام حلال وحرام درآوان تعقل وشعور: اسلام حکم مي کندکه زمانیکه اطفال به سن تمیز وتعقل رسیدندباید براي آنهااحکام حلال وحرام تعلیم داده شودتاازابتداي زندگي، آنهابا احکام دین اسلام آشناشوند ، چنانچه دریك روایت آمده :
اخرج ابن جریروابن المنذرمن حدیث ابن عباس رضي الله عنهماانه قال: اعملوا بطاعة الله واتقوامعاصي الله ومروا اولادکم بامتثال الاوامرواجتناب النواهي فذلك وقایة لهم ولکم من النار »
ابن جریر وابن منذرازطریق ابن عباس رضي الله عنه عنهما روایت مي کنندکه وي فرمود: مطابق طاعت خدا عمل کنید وازمعاصي اوحذرنمائید واولادخویش رابه امتثال اوامرخداواجتناب ازنواهي امرکنید زیرا این سبب حفاظت شماواطفال تان ازآتش دوزخ مي گردد.

۳- امرنمودن اطفال به عبادت: اسلام والدین راتوجیه مي کندکه چون اطفال شان به سن هفت سالگي برسندبه ایشان امرنمایندکه به عبادت خداوند بپردازند، زیرا به همین ترتیب ازابتدابه عبادت خوگرفته امتثال ازاوامراسلام واجتناب ازنواهي آن درنهادشان راسخ شودوزمانیکه به سن شعوروپختگي رسیدند به طیب خاطروآمادگي طبع به عبادات خدابپردازندوکدام مزاحمتي ازناحیه عدم آشنایي به این عبادات درخوداحساس نکنند .
چنانچه دریك روایت آمده : روي الحاکم وابوداود عن ابن عمروبن العاص رضي الله عنهما عن رسول الله صلي الله علیه وسلم انه قال: مروااولادکم بالصلاة وهم ابناء سبع سنین واضربوهم علیها وهم ابناء عشروفرقوا بینهم في المضاجع .
ابن عمروبن العاص رضي الله عنهماروایت مي کندکه پیامبرعلیه السلام فرمود: اولاد خویش را به نمازامرکنیددرحالیکه آنهابه سن هفت سالگي رسیه باشند وچون به سن ده سالگي برسند به ترك نمازآن هارا بزنیدوخوابگاه هاي شان را ازهم جداکنید.
٤ - تأدیب به محبت پیامبر(ص) ،محبت آل بیت اووتلاوت قرآن :
پیامبرعلیه السلام والدین واولیاي اموراطفال راتأکیدمي کند که اولاد خویش رابه محبت باپیامبر علیه السلام محبت باآل بیت اووبه تلاوت قرآن ادب دهند، چنانچه دریك روایت چنین آمده است :
روي الطبراني عن علي رضي الله عنه ان النبي علیه السلام قال :" ادبوا اولادکم علي ثلاث خصال ، حب نبیکم و حب آل بیته وتلاوة القرآن فان حملة القرآن في ظل عرش الله یوم لاظل الاظله مع انبیائه واصفیائه» علي رضي الله عنه روایت مي کند که پیامبرعلیه السلام فرمود: اولادخویش رابه سه چیزادب بدهید به محبت باپیامبر تان، به محبت باآل بیت اووبه تلاوت قرآن حکیم ، زیرا حاملین قرآن یعني کسانیکه به قرآن ایمان آوردند وبعدازایمان آن راتلاوت مي نمایند، مطالعه مي کنند، درآن غوروفکرمي نمایند ومطابق آن زندگي خویش راعیارمي سازند . درروزقیامت باانبیاء وبنده گان برگزیده خداوند درزیرسایه عرش خداباشند که درآن روزجزسایه عرش خداهیچ سایه اي نباشد .
همچنان ازهمین هدایت پیامبرعلیه السلام برمي آیدکه والدین بایدبه اطفال خویش جهادومغازي پیامبرعلیه السلام ،سیرت اووسیرت صحابه کرام ، سیرت واخلاق قائدین وشخصیت هاي برجسته اسلام وجنگ هاي تاریخي مسلمانان رانیز تعلیم بدهند. تاآنکه اولادباصدرامت آشناگردیده مسیرآن هاراتعقیب نمایند وباتاریخ امت مسلمه پیوندوربط شعوري پیداکنندوبه این ترتیب باقرآن پیوند عمیق داشته باشند .
اینکه مابرخي ازگفتاردانشمندان تربیه وتعلیم اطفال راذکرمي کنیم که راجع به وجوب تلقین تلاوت قرآن، جهادومغازي پیامبرعلیه السلام وآثارشخصیت هاي برجسته تاریخ اسلام به اولاد فرموده اند .
۱- یقول سعدبن ابي وقاص رضي الله عنه : کنانعلم اولادنامغازي رسول الله صلي الله علیه وسلم کمانعلمهم السورة من القرآن الکریم.
سعدبن ابي وقاص رضي الله عنه مي فرماید : مابه اولاد خویش همان طوریکه یك سورهٔ قرآن رامي آموختیم مغازي پیامبرعلیه السلام رانیزمي آموختیم .
۲- امام غزالي درکتاب معروفش احیاء العلوم توصیه نموده که به اطفال قرآن حکیم راتعلیم دهید، احادیثیکه راجع به اخبارجهاداست بیاموزید، حکایات وداستان هاي مردمان صالح ونیکوکارارا بیاموزیدوبعدبخشي ازاحکام دین راتعلیم بدهید .
۳- ابن خلدون درمقدمهٔ تاریخ خویش به اهمیت تعلیم وحفظ قرآن به اطفال اشاره نموده مي فرماید : تعلیم قرآن درتمام مدارس ومناهج درسي عالم اسلام اساس تعلیم وتربیه مي باشدزیرا قرآن کریم شعاري ازشعایر دین است که تعلیم آن به تثبیت عقیده ورسوخ ایمان منتج مي گردد .
٤- به همین ترتیب ابن سینادرکتاب خویش السیاسة نصیحت مي کندکه اطفال زمانیکه ازنظر جسمي وعقلي آماده آموختن شدند بایدازتعلیم قرآن کریم آغازنمود. تابازبان قرآن آشناشوند وایمان درقلب شان رسوخ کند.
٥- درکتب تاریخ وادب مذکوراست که باري فضل بن زیدپسري یك زن بادیه نشین رادیدوخیلي پسندکرد، اززن مذکورپرسیدکه چگونه اوراپرورش نمودي وي گفت : چون پنجاله شدبه مربي تحویلش دادم که اوراتربیه کند، مربي به اوقرآن راتعلیم داد، وي قرآن راحفظ کرد، سپس به اوخواندن شعرراتعلیم داد وآثار آباواجدادش رابه اوتلقین نمود، چون به سن جواني رسید، اسپ سواري رابه وي آموختم که درآن مهارت حاصل کرداسپ سوارشد وبعدازآن سلاح برداشت ودرمیان قریه وده گشت وگذار مي کردوبه آوازصارخ گوش میداد تابه کمکش برسد .
درگذشته تذکردادیم که اسلاف درتأدیب وتربیهٔ اطفال شان بکدام پیمانه اهتمام مي کردند ودرین رابطه براي اولاد خویش مربي انتخاب مي نمودند وبه آنهاگوشزدمي کردند که به اطفال قرآن کریم بیاموزند،

ادامه دارد

دجدي شپږمه دروسانو یرغل دکمونستانوانجام

دسورة توبه په ۱٤ او ۱۵ ایتونوکښي په دي مفهوم راغلي دي چي تاسي ددین له دښمنانو سره وجنګیږي الله به هغو ته ستاسي په لاسونو سزاورکړي اوهغوي به رسوا اوذلیل کړي دهغو پرخلاف به له تاسي سره مرسته اونصرت وکړي اودمؤمنانو زړونه به یخ کړي اودزړونو تاوتپ به بې وباسي هو. دالله (ج) دغه سنت دتاریخ په اوږدوکښي لیدل شوي دي دحق اوباطل پمعرکو کښي په لومړي سرکښي دباطل پیروان دظاهري اسبابوپه لحاظ پرمخ تللي اوغالب لیدل شوي دي خوپه نتیجه کي دکم شمیراوظاهره کمزوروحقپالونکو په لاس تارپه تارشوي اوله شرمه دکي ماتي سره مخامخ شوي دي ددي لړي یوه کړي د تاریخ په دي پړاوکښي دپخواني شوروي اتحاد دسري خونړي امپراطوري توټه توټه کیدل اوژنړي له نقشي نه دهغي دنوم محوه کیدل دي، دغه شیطاني ځواك په افغانستان کښي دیوي وحشیانه کودتا په وسیله دخپلو ملحدوپیریخو درامنځ ته کولو په تعقیب د ۱۳۵۸ کال دجدي په شپږمه دافغانستان پرازاد اواسلامي خاوره باندي عسکري تاراك وکړاوپه هرډول تباه کوونکو وسلو باندي سمبال یونیم لکه پوځ یې داخل کړاوپه دي تکل چي دغه آزاد مسلمان هیواد دشوروي اتحاد شپاړسم ایالت وګرځوي ددي هیواد دبیدفاع خلکو په قتل عام یې لاس پوري کړ ۱٤ کاله په دغه مظلوم ملت باندي دبمونو اوتوپونو اوګولیوباران جوړکړ اود باروتو په لمبو اولوخړوکښي سپین ویږي ،ځوانان،ښځي اوماشومان وریت شول.
خوالحمدلله چي دغه مسلمان ملت ددغوتولو درندو مصیبتونو په وړاندي مقاومت وکړ اوخپل جهاد ته یې ادامه ورکړه چي په نتیجه کښي دخداي (ج) وعده محققه شوه ،دسرولښکرو درسوایي نه ډکي ماتي په تعقیب دادي ۱۳۷۰ دجدي دشروع سره دشوروي اتحاد اتغر دخمکي له مخ نه ټول شو اوجنازه یې پورته کړاي شوه. دالهي ارشاد په اساس چي : له کافرانوسره ترهغه وجنګیږي چي فتنه باقي پاتي نشي اودین دژوند نظام بوازي دالله له پاره شي زمونږ د سپیڅلي اسلامي جهاد له دووهدفونو څخه یوچه دفتني یعني ددښمن دغلبي اوبرلاسي محوه کیدل دي ترسره شو خو دویم هدف چي ددین اقامه ده هغه په ګران هواد کښي داسلامي سوچه نظام برقرارول
اوناقنول دي متاسفانه هغه ته لاته یورسیدلي اودغه هدف ته درسیدو په لاره کښي یوخند دادي چي دکمونست حکومت بقایاوداتئلاف په نتیجه کښي دروسانو هغه
تیروحشیانه عملونه بیاتکرارکړل.
په ظاهرمسلمان اوباطن کښي دامریکه اودروسانوغلام دي : اودامظلوم ملت دآزادي په خوند پوه نه کړه اودمسلمان ملت په سرنوشت یې لوبي وکړي اودکابل لاري اوکوڅي اوسرکونه دکابل ښاریانو په وینو سره کړل اوبیا سږ کال پدغه شپږ اوورځوکښي دتګاب اوسروبي په مظلومو بې چاره مسلمانانو باندي دروسانو پشان دبمونو باران جوړکړ اوپه نتیجه کښي دسروبي خلك په سروونو کښي ولمبیدل خو هغه
ورځي لري ندي چي دکابل داتئلافي اداري کشتي به په ډوبیدو شي اوهرڅوك چي په دي کشتي کښي سپاره وي هغه به هم ډوبیږي

مسعود دی دجنگ پرځای په

رجوع وکړي ،عمومي انتخاباتو ته غاړه کیږدي ترڅوملت پخپله خوښه دخپل هیواد لپاره قائد اوزعیم وټاکي اوجنګونه دتل لپاره پاي ته ورسیږي خوټوله دنیا ویني چي مسعود دیته هم غاړه ایښودوته ندي تیار اوهمدایوه خبره کوي چي زمونږ جنګ به ترهغه جاري وي ترڅوښمنتیپال مو نه وي محوه کړي ، دمسعود له دغه بې اصولي اوپرجنګ باندي مسلسل اصرار نه معلومیږي چي دهیواد اوملت تباه کولو پسي همده ملا تړلي ده اودټولو بدبختیو عامل دی اودده
کمونست انډیوالان دي نه حزب اسلامي،خومسعود دي پدي حقیقت پوه شي چي هغه خپل پدي مکروه عمل کي هرګز نشي کامیابیداي بلکي هغه وخت دیرنژدي رارسیدلي دي چي هیواد وال به ټول په یو آواز دمسعود ددغه ناروا اواسلامي ضد عمل په خلاف پاڅون وکړي اوداسي قانوني چلند به ورسره وکړي چي بیا به دمسعود پښیمانتیا هیڅ ګټه ورته ونه رسوي .

مجاهدین اصولی راکسی تروریست نمي گوید

تکنوکراتهاتایك وقت زمام امور را بدست بگیرند

عبدالمنیر "یوسفزي" خبرنگارروزنامه بشارت (پشاور)

برادران محترم کارکنان روزنامه شهادت وبخش انعکاسات.
السلام علیکم ورحمت ...
بعدازانتظارنهایت طویل بالاخره نامه ارسالي برادرتانرا به نشر سپردید که قابل تحسین وتشکراست.
لیکن صرف بدوران تبصره گردید وبالکل یك پراگراف نامه اصلي رانشر نه نمودید البته دربعضي جاها به نظرمن شما صحیح بودید ومن غلط ودر بعضي جاها شما غلط بودید ومن صحیح .
برادران !
خوب میدانید که من خط رابه شما به زبان دري ارسال نموده بودم وازاین قبل هم با شما (شهادت) رابطه داشتم ،لیکن شما مراپاکستاني خطاب کرده اید؟ حیف ! ملامت هم نیستید بخاطریکه صرف پنج ماه کم چارده سال مادر پاکستان گذشت که درهمین جا ازطفولیت به بلوغیت رسیدیم ومطابق قانون اساسي پاکستان حق تابعیت رانیز حقدارشده ایم (پنج ماه بعد) مگربه افغانستاني بودن فخرمي کنیم ،واینکه من دراخبار اردوزبان تجارتي "بشارت" بطور ژورنالیست کارمي کنم ، بنا بر بي انصافي وقتا است که درهیچ یك ازمؤسسه هاي خارجي برایم کار پیدانشد وهم تا هنوز درکدام پوست دولتي افغانستان نسبت نبودن سفارش بجز (شهادتنامه - دگري ودیپلومه) که ازپوهنتون پشاورگرفته ام مقررنشده ام.
2- برادران ! شما گفته ایدکه همان مجاهدین راکه حافظ سلامت کشورهاي دیگربوده اند تروریست خطاب مي نمایند . اینطور نیست آن مجاهدین که براي رضاء خدا (ج) وبراي استقرارحکومت اصیل اسلامي و عدل الهي جهاد نموده اند یاشهید شده اند یاسلاح رابه زمین زده درداخل وخارج مزدورکاري مي کنند ،شاید بسیارکم ازآنها فعلاً باشند که صرف ٪٥ خواهند بود . خفه نشوید متباقي به گفتهٔ خارجیان تروریست هستند بخاطریکه بسیاري قوماندان هاي همین مجاهدین فعلي درسراسر افغانستان ، خادیستان وملیشاهاي سابق راباخود همراه کرده اند. اگردر افغانستان تروریزم نیست جنگ درقندهاربراي چه؟ جنگ میان پشتون وهزاره درغرب کابل چه معني ! جنگ درتگاب براي چه ! درنقطه نقطهٔ افغانستان قتل وقتال وخوف وهراس چه معني ؟ برادران همین را تروریزم - دهشت افگني ویا ویره اچول مي گویند.
برادران ! شمامي گویید حزب اسلامي طرفدار انتخابات است .من براي بهترین راه کامیابي رانشان مي دهم اولاً درآن ولایاتي که درآن حزب حاکم است مثل لغمان (که فعلاً دوحکومت ولایتي دارد ،یکي درمهترلام ازعبدالله جان ودیگردرعلیشنك حکومت حرکت ازمولوي عبدالحلیم که درچهارده سال دورکمونستي اینطورنبود .) درآنجاانتخابات آزاد رادرمیان افرادیکه اسلامیت - حب الوطني . لیاقت واهلیت شان به همه مردم منطقه معلوم باشد، براه اندازد ، تایك شوراي ملي بوجودآید " چهل یا پنجاه نفر " آنها والي راتعین خواهند نمود. همینطور در ننگرهار - کنرها،پکتیا . پکتیکا . زابل وکندهار نیز شده میتواند وشاید در اندك مدت درتمام ولایات افغانستان اداره هاي ملي بوجود خواهند آمد که ازمردم ولایت شان نمایندگي خواهند کرد وبالآخره آنها بالاي حکومت مرکزي فشارخواهند آورد که انتخابات رابراي مجلس ملي ولسي جرگه ،براه اندازد ومسئله حل خواهد شد.
برادران ! شما گفته اید که درپاکستان چند نفرتکنوکرات را دعوت داده اید که حکومت نمایند غیرازنوازشریف وضیاالحق وایوب خان متباقي همه افرادتکنوکرات بودند. محمد علي جناح -لیاقت علي خان اسمعیل چندریگر،سین شهید سهروردي ،محمد علي بوگرا، چوهدري فضل الهي . ذوالفقارعلي بوتو، غلام مصطفي جتویي ،معین قریشي ، محترمه بي نظیر بوتو، وسیم سجاد وفاروق احمد خان لغاري همه تکنوکرات اند.
شماگفته ایدکه مردم افغانستان مجاهدین را مي خواهند واضح نه کرده اید که بعضي قوماندان هاي فرعون صفت امروزي را یاآن طبقه اهل علم راکه سلاح بدوشان امروزي به هدایت آنها پیداشده اند ولي امروز از آنها اطاعت نمي کنند.اگرمنظورشما طبقه دوم است هردوءِ(ماوشما) همنظریم والا ...
بعضي ومنظورمن ازتکنوکرات ها درافغانستان که باید زمام امورتایك وقت معین به آنها سپرده شود وآنها انتخابات رابراه بیندازند وقدرت رابه نمایندگان ملت تعویض نمایند ، عبارت اندازجناب دکتورعلي احمد پوپل سابق وزیر،دکتورعبدالصمدحامد - استاد قریب الرحمن سعید،دکتورمحمد امین فاطمي ، دکتورنجیب الله لفرایي ،برادراسحق دلجوحسیني ،دکتورعبدالرحمن، دکتورعبدالسلام عظیمي ، عبدالستارسیرت، صباح الدین کشککي ،برادرنواب سلیم، دکتور عبدالحي الهي ،مولاناعبیدالله ذاکري صاحب ، جنرال رحمت الله صافي ، مولوي صاحب تره خیل ودهها نفر دیگر بطوربالاکه اسماي شان حالادرذهن من نیست که اینطورمردم واقعاً براي مردم افغانستان خدمت کرده اند.
والسلام.

انعکاسات

شهادت:
محترم یوسفزي صاحب ! درابتدا بخاطراینکه متن نامه اول شما در انعکاسات شماره ( ) شهادت از نشربازماند،معذرت ماراپذیرید.
برادرانیکه مسؤلیت بخش کمپوز شهادت را دارند ،اشتباهاً نامه شما را مترجه نشده اند وتنها به تایپ توضیحات شهادت اکتفا کرده اند.
بهرحال ،قسمیکه ازنامه کنوني شما معلوم میشود ،حرفهاي مارا خوب مطالعه نکرده اید . نامه شما را غیر ازماهرکس میخواند ،این حدس وگمان که شما پاکستاني باشید، حتماً برایش پیدامیشد. زیرا معلومات شما درمسایل افغانستان ،بیك پاکستاني کم اطلاعي شباهت داردکه اطلاعاتش راتنها ازمنابع تبلیغاتي استکباري گرفته وازحقایق افغانستان چیز بیشتري باخود نداشته باشد.
۱ - ماشکایت شمارادرقسمت اینکه میگوئید ،بخاطر نداشتن واسطه بکدام پوست دولتي مقرر نشده اید ،قبول نداریم. واسطه تاحدودي اثر دارد ولي اینطورهم نیست که همه تعینات وتنصیبات براساس واسطه شده ولیاقت واستعداد شخصي هیچ نقشي نداشته باشد. عدم تقررشما فکرمیکنیم ازآن ناشي شده که درطول چهارده سال دوره هجرت تان با پاکستاني ها بیشترازافغانها درتماس بوده وهمیشه کاردرموسسه خارجي را به کاردرامورجهادي ترجیح داده اید. بااینهم ،هرگاه بي نظمي هاي موجود پایان بگیرد وحکومت مجاهدین رویکار بیاید ، حتماً به هموطناني شبیه شما زمینه کار داده خواهدشد.
۲ - شمامیفرمایید که مجاهدین اصیل ومجاهدیني را که بخاطررضاي خداجهادکرده اند ،کسي تروریست نمیگوید ،حالانکه همین ها هدف دشمني استکبارهستند ،همین مجاهدین اصولي ومجاهدین راه خدا خارچشم دشمنان جهاد است واستکبارجهان همه کوشش هاراهم براي آن رویدست گرفته ،تاازرویکارشدن حکومت اصولي واسلامي جلوگیري نماید. جنگ امروزجنگ پشتون وتاجك وجنگ هزاره وازبك نیست، جنگ امروز جنگ مجاهدین اصولي وجنگ ائتلافي هاي فرصت طلب است.
۳ - درهمه ولایات في الحال تشکیلاتي وجود دارد.مشکل عمده این است که دولت مرکزي که ممثل اراده ملت مسلمان ومجاهد افغانستان باشد ،تاهنوز بمیان نیامده است. اگر حکومت مرکزي درست شد ،مشکلات ولایات خودبخود حل میگردد.
٤ - ماازشما پرسیده بودیم که درپاکستان چند نفررابخاطر "تکنوکرات" بودنشان بحکومت دعوت داده اند،ولي شما نام یکعده زعماي پاکستاني رانوشته اید،که اینها تکنوکرات اند، درحالیکه این افراد بخاطرتحصیل وتکنوکرات بودنشان به این مقامات منتخب نشده وازراه نفوذ سیاسي وحزبي بریاست رسیده اند.
تکنوکراتهاي که مسلمان باشند چه ارتباط تنظیمي داشته باشند یانداشته باشند درافغانستان زمینه کار دارند ولي مشکل امروز افغانستان مشکل افراد نیست ،مشکل سیستم است. سیستم ائتلاف موجود عامل بي نظمي وخانه جنگي است وتا این سیستم ازمیان نرفته واضحست هیچ اهداف اصولي وبرنامه جهادي نمیتواند محل تطبیق داشته باشد.
٥ - لست افرادي را که به حسب نمایندگان ملت انتخاب کرده اید ، خودنشان دهنده آن است که شما از اوضاع افغانستان اطلاع دقیق ندارید . فقط همانهاي را که نامشانراازاخبارېي ،بي سي وصداي امریکا شنیده اید، درحالیکه بین این افراد تفاوتهاي عمده بي وجود دارد مثلاً استاد قریب الرحمن سعید سخنگوي حزب اسلامي ودوکتورعبدالرحمن معاون شوراي نظار،نواب سلیم سخنگوي حزب ولفرایي سخنگوي جمعیت وهمچنین افرادي ازغربگراها درحکومت موقت که متاسفانه به اثر لجاجت واصرار اداره ائتلافي تاهنوز روي کاغذ مانده وزمینه عملي پیدانکرده وجود دارند. اما طوریکه قبلاً گفتیم علت اینکه نمیشود ازاین گونه افراد کارگرفت وجودسیستم نامیمون ائتلافي است،اداره ائتلافي بخاطر آن ازطرف محافل استکباري بر مردم مالتحمیل شده تابي نظمي وخانه جنگي راخلق کند ونیروها واستعداد هاي مجاهدین رابه هدربیرد.
کسیکه روي عقیده اسلامي طرف دارجهاد است ،تاریشه کن ساختن تمام فتنه ها خط حرکت ومبارزه خود را گم نمیکند ودرتحلیل مسایل به تبلیغات موزیانه استکبار پناه نمیبرد البته ضروري وحتمي است که خداوند مزد اینگونه عناصررا ضایع نمیکند وحکومت اسلامي که ممثل اراده وافتخارملت غیور افغان باشد رویکارمي آید.
والسلام علیکم
چشم براه نامه هاي دیگر تان

دکابل ولایت دبگرامیو ولسوالی شریفوخلکو...

وروسته محترم مولوي شمس الرحمن، محترم داکترذبیح الله «احمدي» دپنځمي پلي جهادي فرقي قوماندان، محترم اخترمحمدشرافت اودسپاه نورداداري غړي ،محترم عبدالحکیم په خپل وارسره خبري وکړي .
وروسته دحزب اسلامي افغانستان دشوري اوروزني رئیس محترم قاضي محمودالحسن جاهد دخپلو خبروپه ترڅ کي وویل زمونږ دښمن مکار اوحیله ګردي ځکه ئي دشیطان لاره نیولي اوشیطان ورته له حیلي اومکرنه ډکه لاربښونه کوي .
وروسته محترم قاضي میرویس خبري وکړي اوغونډه دمحترم مولوي شمس الرحمن په دعائیه وینا سره پاي ته ورسیده .

قلاووز نحس

ابوشعیب

دربیشه بي خموش
تمثال خشك هیكل انسان بیدفاع
كاورانه روح بودونه یاراي انتعاش
چون سنگواره ها
افسرده ازفلاخن بیداد روزگار
وامانده ازمعاش،
تندیس وارتكیه بیازوي مرگ داشت
درالتقاط نرگس بیداروپرتلاش
آمدبرون زپردهٔ اوهام بیكتار
اسرارگشت فاش.

* * *

درتنگناي وحشیي آن بیشهٔ سیاه
دورازنگاه جمع
مهپارهٔ شهید،
لبهابهم نهاده وآسوده ازسخن
رخساره ها چولالهٔ نورسته اززمین
گنجینهٔ دهانش یكي درج گوهرین
مشك وعبیرریخته ازجعدپرجبین
لیكن هزارحیف،
افسوس وهم دریغ
كزناوك ستم ،
بادست نحس وچنگ قلاووزروزگار
درپیكرلطیف وي ازجان اثرنبود

* * *

چالشگرنشسته بخون ستاره گان
قلماش وبدسگال
باطلیسان‌ازرق وطامات بیشمار
ازبام تابه شام
هرسوتنیده دام
تاوافتدبه حلقهٔ اوبازهم شكار
اوراكشدبكام!

دجدي شیرمه

محمدسرورقیام

دجدي په شپږمه ویرغل دسرورروسانو
پرملك دافغانانو ،پرملك دافغانـــانو
له پاسه ووجازونه
یكي خروارېمونه
په خمكه توپ ،تانكونه
لكونه ورسره ووسره پوځونه دروسانو
پرملك دافغانانو ،پرملك دافغانانـــو
كابل كي شین اسمان
تیاره شویه بوآن
پري وشولو طوفان
شوه جوړه هنگامه اوغلبله دمظلومانو
پرملك دافغانانـــو، پرملك دافغانانو
ملك واره چورتالان شو
انسان قاتل دانسان شو
هیوادجورقبرستان شو
شروع شوقتل عام دنراوښځوماشومانو
پرملك دافغانانو ،پرملك افغانانـــو
ځوانان موشهیدان شول
تري پاتي یتیمان شول
بي شمیره معیوبان شول
ویجاړي موجونگري شوي له ظلمه دخوگانو
پرملك دافغانانو، پـــرملك دافغانانـــو
په نوم چي مسلمان و
حلك ،زوراوكه ځوان و
په ویراخته دځان و
په جرم داسلام بي كړو شهیددي ظالمانو
پرملك دافغانانو ،پرملك دافغانانـــو
انجام دظلم گوره
كمون شولونسكوره
هم سپك اوهم مختوره
قیام وابي وحدت كري دنړي مسلمانانو
پرملك دافغانانو، پرملك دافغانانـــو

قرن بیست

فارغي

مقصدي گرهست ازهستي همین نانست وبس
گوئیاانسان قرن بیست حیوان است وبس
درلسان انگلیسي بیست یعني چارپاي
قرن بیست الحق كه دورچارپایان است وبس
تاپماندزنده ومحظوظ باشدازحیات
دردهمنوعان برایش عین درمان است وبس
نرخ اجناس وغذاهرروزمیگرددبلند
آنچه ارزان ترشود هرروزانسان است وبس
تاسلاح ناریه بازیچهٔ طفلان بود
صلح وآرامي برون ازحدامكان است وبس
حرفهاي آشتي گردیدیكسرآتشي
درسخن آتش بس ودرفعل جولان است وبس
بیدفاعي راچوبیندمیكنداززخوددفاع
خون همنوعان برایش باب دندان است وبس
امت مسلم بهرجاهست دردام بلاست
هرمصیبت گوئیابهرمسلمان است وبس
دشمن لمبریك اسلام امریكابود
كزوجودش امت مسلم بتاوان است وبس
فارغي ازخامه ات بردشمنان ریزدشرر
دشمنانرا حرفهایت نارسوزان است وبس

تاریخي فاجعه

ش - م

دالحاد دلپونیانودابیغام و
پراغیارویي پلورلي ننگ ونام و
دكمون لښكریي راوستي تركوره
دبیرك له لاسه پت زموږلیلام و
خوملت پرځان حرامه ارام خوب كړ
مسلمان بچي هریوسپاهي گمنام و
ولولي دایمان تورویدرگه كري
خوځیدلي ستراحساس .دانتقام و
دشاهین ملت غوټي پرذښته باندي
چي له مال وځانه گران ورته مرام و
دبري میندي شولي بوري خویندي وراري
له هركور دوینوجورگرم حمام و
لوي ازمون دپت پالني داسلام كي
نروښځوته په ویښ دجنگ الهام و
گودي ماتي دالحاد شولي لښكري
چي بیرك یي دراتلوكري اهتمام و
خوارذلیل ژوندیي داستان دبي عزتي شو
دملت دوینوچاچي چښلي جام و
دحقپالي معركي دحق میدان كي
دبري دفتحي زیري داسلام و
له نظره چي پریوتي هم منفورشول
دبیرك اوكمونیزم بدانجام و

مجاهد

روان

چي دتوري قهرمان دي مجاهد
گوري څومره باایمان دي مجاهد
چي پالونكي دحیااودناموس دي
چي گرندي مردمیدان دي مجاهد
په میرانه دښمني داسارت كا
ازادي لره درمان دي مجاهد
دالحاد تیاري كه څومره طغیاني شي
ورته مخي له طوفان دي مجاهد
سرنوشت تاكي جهاددولسونو
جوړونكي ددوران دي مجاهد
افتخارني سردځمكه كي لاپریده
چي سرلوړي تراسمان دي مجاهد
خداي غیوردي غیرتي بنده ني خوښ دي
دغه امرته جانان دي مجاهد
شمره ني دهمت اودغیرت ده
پرالله باندي چي گران دي مجاهد
دیرعزت ورته وركري كردگاردي
ذكرشوي په قرآن دي مجاهد
چي صفت څومره كرم هومره خوښیږم
دسرسترگي «دروان » دي مجاهد

هغه دي بیا

حمیدالله جویا

هغه دي بیاتوپونه وغرزیدل
هغه دي بیاتانكونه وبنوریدل
هغه دي بیاجازونه پورته شول
هغه دي بیافوځونه وخوځیدل
بیابه دچاپه كوربمونه وري
بیابه دچاژوندون ایره ،ایره شي
بیابه په چادمرگي زیري راځي
بیابه دچامینه سپیره سپیره شي
بوځلي بیاآرام ژوندون خاوري شو
شینكي اسمان دغموروبځوبڅ كړ
ترخویه دا اور اومظلوم جوړه وي
ترڅویه دغه ابادي ورانیږي
ترخویه داسي ناكراراوسیږو
هرځاي په غم به موښادي ورانیږي
راځي چي ورك كړو دپردونوكران
داشین چمن پاك كړوزاغانوځخه
توریه سكروكرومخ دغل اوغدار
بي وسي خلاص كړو قاتلانوځخه



مه پریږدي

اسدالله «غالب »

نورددي ملت تثبیت شده دښمنان مه پریږدي
خداي لپاره وروڼودلستونوماران مه پریږدي
هغه چي دلوي رب دقدرت ځخه منكریه وو
نورله پرمه ښكته دلینین پیروان مه پریږدي
څومره ناكردي ئي له دي ملك اوقام سره وكړلي
سره په وینوسرولاسونه سره قصابان مه پریږدي
دلته «خدانیست » قلم دچاپه لاسوبنودشو
هغه دالله (ج)اورسول (ص) دښمنان مه پریږدي
دلته دشوراتالاركي چاپه لیڼن درودووي
هغه دكارمل غوندي منحوس انسانان مه پریږدي
سورپوځ چي دچاپه اشاره دلته پیاده شولو
هغه دپردوحلقه پرغوږچاكران مه پریږدي
دلته په هرلویشت ځمكه دوینوسره ږندونه دي
شرم دتاریخ اودملت قاتلان مه پریږدي
هغه چي له خداي (ج) او له رسوله (ص) ویره نه كوي
راس دداري كي بي انصاف حاكمان مه پریږدي
عدل اوانصاف ځماده‌رشهیدغوښتنه ده
لاركي نیمایي دشهیدانوارمان مه پریږدي
نن چي مودقدرجنازي په بي قدري وځي
خپل منځوكي وروڼوكمونست غمازان مه پریږدي
یوظلم نه خلاص شوي خوچي بل ته غاره كیږدي
غاړوكي دسپیني ماني تورزنځیران مه پریږدي
زه « غالب» كوم درته منت اي دتحریك وروڼو
یوشي لاردشرعي دنبي (ص) اوقرآن مه پریږدي

دزړه كعبه كي بت

نقشبند

نن مي بیاجاري له سترگونه دي نم
چي زه گورم دفلك ظلم ستم
ددنیا موقف كي نوي تحول شو
ابن الوقت دزماني شوداعالم
دطوطیانومیني پاتي شوي كارغه ته
چي خزان كړو دگلزونباغ برهم
فیروزه اوكوتي لال په یوقیمت دي
په بازاردنابیناوو چم په چم
جاهلان دفاضلانوپیښني كاندي
چي گردش دزماني شودارقم
دانسان شرف په مال اودولت نه دي
شرف داروي دنبي نقش قدم
تملق دعالمانو جامه نه ده
چاپلوس كله دي لایق ددي نعم
چي په حق سره وارث دحضرت نه وي
دروغجن تل لعنتي دي داكرم
خودنمالره میوه دژوندون نشته
دریاتعمیربه زرشي منهدم
چي دزړه كعبه كي بت دغروروپروت وو
عزازیل شومستكبره دآدم
نقشبند له دي مرض نه امان غواړي
امیدواردي درباري دلوي كرم

دآزادي پیغام

امان الله «نورستاني »

قلمه پورته شه شهیددزره ارمــــان ولیكه
دي دردېدلي اومأیوس زره ته درمان ولیكه
وبني توبیري بي حسابه داتركومــه پوري ؟
عدل اوانصاف دپاك قرآن عظیم الشان ولیكه
دادظلمونواوتیریووخت تركومــه به وي ؟
دآزادي پیغام ملت ته پـــه لورشان ولیكه
ښه به وي داچي رجــوع وشي دملت نظرته
دجنگ جگړونه نورتوبه په دي مكان ولیكه
كلي ښارونه دهیوادپه كـــندوالـــویل شول
دادبي رحموكارنـــامي دبرپـــه فغان ولیكه
آخربه جوړشي وران وطن دخداي(ج)پرفضل اوتوان
« امانه» پاڅه څوشعرونــه خودځان ولیكــه

عالي مقام

محمدعارف«رحیمي »

خوك چي بل لره گفتاركري په نیكیو
اول ده لره په كارده چي نیك نام وي
چي دبل په دركي پروت وي پټي سترگي
آخرداجاهل په هرځاي كي بدنام وي
چي عزت ،ذلت بنده په لاس كي بولي
دابدعزمه به په ټول ژوندكي ناكام وي
وروروني مه بوله دښمن دي په دوستي كي
اعتبار دي چي یوځلي په چاخام وي
گوره پام كره له بي عقلوليري گرځه
چي آخربه دي هرځاي په پسوكي دام وي
په دنیا كي دعقبي توښه كره جوړه
خیراوسه رون سحربه دي ماښام وي
رحیمي په ژړا ژاړه خداي ته ژاړه
چي جنت كي درته جوړعالي مقام وي

تاكي

خواجه عبدالحمید

نظام جورواستبداد تاكي
فسادووحشت وبیدادتاكي
زدست جائران بي مروت
فغان وناله وفریاد تاكي
به شهروخانه ي مابم ببارد
حصاركفروظلم آبادتاكي
فضاراكوه آهن آتش افشان
به قرقم سایه ي فولادتاكي
وطندارضعیف وناتوانم
بزیرخنجرجلادتاكي
به هرجانغمه شادي بلنداست
دل ماخسته وناشادتاكي
مسلمان بامسلمان درمصاف است
اخوت باصف الحادتاكي
حكومتگربه شهركابلستان
جنایت پیشه گان خادتاكي
حكمراني بدست ملحدین است
حقیقت پوشئ «استاد » تاكي
بدین حالت گروه كفروالحاد
خوش وخندان ومست وشادتاكي
قیامي سردهیداي حق پرستان
شكاردشمن شیاد تاكي
دلاباارغنون تاكي برقصي
عمیل وبردهٔ شدادتاكي
خدارابهرتعمیروطن خیز
وطن ویرانه وبرباد تاكي
تواي بازبلند پروازبرخیز
اسیرپنجهٔ صبادتاكي
به ناخن پاره كردم سینه ازغم
بدستم تیشهٔ فرهادتاكي
«حمیدا » منتظرتاكي بماني
فضاي میهن آتشزادتاكي

قرارچیست

انصاري

اي بیوفا، قرارندانسته اي كه چیست
میثاق سال پارندانسته اي كه چیست ؟
گاهي براي خاطرباران همنبرد
پیوند روزگارندانسته اي كه چیست
شرم است اینكه خاطربادارخویشتن
آبادي دیارندانسته اي كه چیست
بایك اشاره بي كه ترامیدهدبه جنگ
دشمن بصدشرار، ندانسته اي كه چیست
بادوستان ستیزه وبادشمنان قرار
اي روبهي مكارندانسته اي كه چیست
بردي زیادعهدقدیم وقراریار
بامرد نامدار ندانسته اي كه چیست
ازیكطرف چپاول وتاراج این وطن
درروزوشام تارندانسته اي كه چیست
وزطرف دیگري به كمونست داده ئي
كرسي واقتدار، ندانسته اي كه چیست
آنان كه دركنارتوبودند سال ها
گردن زدي هزارندانسته اي كه چیست
بهرخدابیاوبه عهدي وفابكن
بگذرازین شرارندانسته اي كه چیست ؟
ازسردوباره آي كنارمجاهدین ،
بگذارننگ وعارندانسته اي كه چیست

دلیكني پښتو دمعیار اولندون په تكل

محمداصف «صمیم»

* په دغه دقرباني په میثاق استواروگري له بل هرچانه زیات ستغي سپوري گوري .
– دغه دسرچندني ترون كوونكي ترهرچا زیات ستغي سپوري زغمي .

څیرنه :

ستغي سپوري زغمل كیږي، لیدل كیږي نه .

* پیغمبر (ص) هغوي ته دابڼودل، چي نه یوازي داحزابودجگړي پایله به دمسلمانانو بري اودكافرانوناكامي وي .
– پیغمبر(ص) هغوي ته دابڼودل « چي داحزاب جگړي پایله (نتیجه) به دمسلمانانوبري اودكافرانو ناكامي وي.

څیرنه :

« داحزاب جگره یاغزوه » پخپله یوخاص یامعرفه نوم دي، په « احزابو » نه مغیره كیږي، لكه ، كه وویل چي دافغانستان دخلق‌یاخلكو گوند، داجلامفهوم لري، په دي معني چي داگوندیادله (هره یوه چي دي) ټول اولس اوبرگني رااخلي، خو كه وویل شي دافغانستان خلق یاخلك گوند، نودا بیادیوه معرفه نوم په توگه تعبیرېږي .

* كابل ته به دبرېښنا دبیاپه حال كیدوكار دبرژریبل شي .
– كابل ته به دبرېښنا دبیارسولو كاردبرژریبل شي، یا دكابل دبرېښنادبیا فعالولو كاربه دبرژریبل شي .

څیرنه :

په حالكیده یوخودښكیني اردوځیلي پښتوتركیب دي. بل داچي په حال كیده په لازمي بڼه نه ، په متعدي ،، په حال كول ، لیكل پكاري .

* په دوبي كي زیات قلپایني خلك مسلمانیږي .
– څیرنه :

په دوبي یاهربهرني هیوادكي دبل هیواد اتباع معمولاً دگوتوپه شمیروي ، یعني دومره نه وي چي خلك ورته وویل شي ، لكه موږافغانان چي په پاكستان یاایران كي دشمیرله زیاتوالي سره افغانان یاافغان مهاجرگڼل كیږي، نه افغان خلك یاافغان اولس .

دتګاب جګړه ائتلافیونو اودهغوي...

تګاب دمرغومي ٤.
څه دپاسه دوي میاشتي کیږي چي ائتلافي ځواکونو اودهغوي کمونستو جنرالانو دتګاب او سروبي په ولسوالیو کي جګړه پیل کړي سربیره پر سروبي اوتګاب ځجراب اولغمان یې هم ترهوایي بریدونو او بمباریو لاندي نیولي دي چي دګڼ شمیر بې ګناه اوبې دفاع مسلمانانو دمرګ اوژوبلي سبب شوي دي.

دشهادت خبریال ددي جنګونو په باب دحزب اسلامي دشجاعت غونډ له قوماندان دګرجنرال چمن ګل خان څخه پوښتنه وکړه.

دګرجنرال چمن ګل خان دجګړي دپیل کیدو په باب وویل دتګاب جګړه ائتلافیونو اودهغوي کمونستو جنرالانو پیل کړه او تراوسه پوري دوام لري . ده زیاته کړه هغوي غوښتل سروبي اونغلو ونیسي ولي سخته ماتي یې وخوړه .

ده وویل دحزب اسلامي مجاهدین دجګړي له پیل څخه له خپلو سنګرونو څخه دفاع کړي اوکوي یې.

هغه ددي پوښتني په ځواب کي چي دتګاب ولسوالي نظامي حالت څنګه دي . وویل دتګاب ولسوالي دري برخي دحزب اسلامي دمجاهدینو په لاس کي ده اویوه برخه یې له ائتلافیونو سره ده. چي ائتلافي حواکونه پدي یوه برخه کي هم دجنګي الوتکو په مرسته شپي اوورځي تیروي .

ده دا هم وویل چي د، ائتلافیونو بمباري ډیري سختي دي اوکله ناکله دبمباریو له امله موږ یې شاتګ ته مجبوروو ،خوکله بمباري پاي ته رسیږي نوسم دلاسه مجاهدین خپل ځایونه بیرته نیسي .

دګر جنرال چمن ګل خان دائتلافي ځواکودوحشیانه بمباریوله امله دتګاب ولسوالي دمؤمنوخلکو دتلفاتو دشمیر په باب وویل دائتلافي ځواکونو اودهغو ي کمونستو انډیوالانو دبمباري له امله دمجاهدینو تلفات ډیرکم دي خود بیګناه کلیوالو اوعاموخلکو تقریباً (۵۰۰) تنه ماشومان،ښځي اوسپین ږیري تراوسه پوري شهیدان شوي اوهمداراز کلیوالو سیمو ته درانده مالي تاوانونه هم وراوښتي حتي تردي پوري چي ائتلافیونو څوورځي دمخه د نغلو دبند یوه برخه هم تاواني کړي اودرانده بمونه یې پري اوروولي دي.

ده دمقابل لوري تلفات هم ډیر درانه اود ۳۰۰ په شاوخواکي وښودل وبې ویل تقریباً د ۸۰ تنو مړي هم تري پاتي شویدي.

چمن ګل خان داوربند په باب زیاته کړه،موږ هیڅکله هم دجګړي پلوي نه یو موږ نه غواړو چي دبې ګناه مسلمانانو وینه دي توی شي خومتاسفانه چي ائتلافیون دملت دورانیدو اودمظلومو افغانانو دتباه کیدو پروا نلري هغوي نه غواړي چي په هیوادکي سوله او امنیت رامینځ ته شي بلکه دوي غواړي چي قدرت دیوه محدود اقلیت پادلګي په لاس کي پاتي شي.

هغه وویل موږ دتل دپاره دخپل مجاهد امیروروروحکمتیار داشعاربدرګه کوو چي دوي دجګړي دبندیدو په لاره کي یوګام اخلي نو موږ به پنځه ګامه وروړاندي کیږو ځکه چي موږ دجنګ طرفدار نه یو موږ په خپل ملک کي دتل لپاره دسولي اوآرامي غوښتونکي یو.

دګر جنرال چمن ګل خان ددي پوښتني په ځواب کي چي څو ورځي مخکي داسي ویل کیدل چي دلته بند لاره دحزب اسلامي داکمالاتي کاروانوپرمخ ترل شوي اوهلته دائتلافي ځواکونو قواوي کوزي شوي وویل :

اصل حقیقت داسي ووچي څوورځي مخکي ائتلافي ځواکونو دلته بنددلاري دبندولو لپاره دوي هلیکوپټري کوزي کړي وي اوڅه وسله وال کسان یې دلاري په اوږدوکي اچولي وو چي په ډیره بیړه اوکم وخت داوسله وال کسان دحزب اسلامي دمجاهد ینو ترمحاصري لاندي راغلل چي دهغوي له جملي څخه ګڼ شمیرژوندي ونیول شول اوځیني یې وتښتیدل .

له بلي خوا ده وویل چي زمونږ دمجاهدینو مخه روسانو ونه نیوله نوائتلافي ځواکونه به په څه ډول وکولاي شي چي ددوهلیکوپټرو وسلوالو کسانو په وسیله یې ونیسي.

دګر جنرال چمن ګل خان دبمباریو دمخنیوي په باب څرګنده کړه موږ هرډول دافع هوامزایل لرو اوموږ کولاي شو چي دهغوي طیاري راوغورځوو خوزموږ مصلحت په همدي کي دي چي داطیاري دمسعود اودهغودکمونستو انډیوالانو ندي داطیاري دملت سرمایه اومال دي اوداسرمایه اومال باید ضایع نشي .

ده وویل موږ نه غواړو چي نورخپل وران اوویجاړ هیواد زیانمن کړو په اخرکي مجاهد قوماندان دګر جنرال چمن ګل خان ددي پوښتني په ځواب کي چي دحزب اسلامي مجاهد امیروروروحکمتیار پیشنهادکړي چي ګویا ژه اوریاني باید دوارِ ه

(۷)

داملت له انسانانو څخه جوړشوی اوکه ... ؟

ش.م

څوورځي وړاندي مي دشهادت ورځپاڼه لوستله دمطالعي په ترڅ کي دمضامینو تنوع اورنګارنګي زمادذهن دراښکون ولوله لاپسي په خوځښت راوسته او دي ته یې وهڅولم چي داخبارټول مخونه ولولم ، دیوي پاڼي (صفحي) پرمخ تردي سرلیک لاندي چي (مرګ به قبول کړم خواستعفی به ورنکړم) مي سترګي ونښتي خداي (ج) شته چي نوموړي عنوان زماپه ماغزوکي یوشاني تکان پیداکړاوله ځانه سره مي وویل چي خدایه خیرکړي داڅنګه مرګي دي چي لاتراوسه یې هم پرموږخوانده سره شوي اوله بل هرچانه یې زموږپه ورکولو پسي پیځي راپورته کړیدي خوخیر .

مضمون مي ترپایه ولوست اوپوه شوم چي په مضمون کي دهغه چاکړه وړه بیان شوي دي چي چاپي په دي هکله تصورهم نه کولو هغه هم هغه ځوک چي نه یوازي داخبره دهغه دعقیدوي چاپیرچل سره بلکي دهغه دبدن فزیکي جوړښت سره هم څه سمون نه لري .

مافکرکاوه چي استادرباني صیب به داسي پنهي (ځیل) خاوندنه وي چي په هغه کي به د ده دعقیدي اوکارنامویه هکله کوم داغ لګیږي له هغې پنهي څخه دي وانه وړي بلکي ددغسي داغ لګیدني له امله به دچوکي اومنصب خولاڅه چي ځان تیریدني ته هم چمتووي .

ښاغلي پروفیسورصیب به دخپل ځان اومقام دجرحي اوداغ لګیدني له امله څه چي دملت دیوعادي فرد دبې حیثیتي له امله هم ددغي قرباني لپاره حاضرولاړوي خوخبره برعکس شوه .

اودي حدته ورسیده چي اوس رباني صیب دټول ملت په سرسوداکولوته لنګ وهلي ناست دي هغه هم دکابل دیوځوکوځو دسوالي واکمني په خاطرتولیکوال دیوهي اودرک له امله چي دښاغلي استاد په هکله یې درلود اوتردي سرلیک لاندي چي (مرګ به قبول کړم خواستعفی به ورنکړم) دومره پرځاي لیکنه اوتحلیل وچي ماته همداوس هم دیوشهکارحیثیت لري .

حقیقت دادي چي انسان ډیرحریص دي نه پرعمرمړیږي اونه په ډیرمال ودولت . اوکله خوبې سترګي دومره پټي شي چي دیوي ټولني اوان چي دیوملکت حیثیت اوابروهم تریښولاندي غوبل کوي.

موږ ګوروچي رباني صاحب نه یوازي دخپل مقام اوګټوڅخه تیریدونکي نه دي بلکي غواړي زموږدملت په ژوند اوبنودروسي واکمني ګټي هم خوندي وساتي اوهغه دخپلي غیرمنتخبي ، غیرقانوني اوغیراسلامي واکمني دپاینښت لپاره دبې پښتوانې بانکنوټونودچاپولو سلسله ده چي پدي کارسره زموږله ملت څخه روسي واکمني ته شپاړس ملیونه دالره ترلاسه کیږي اودا داستاد هغه زړه سوي، اوکومک دي چي زموږدملت دځوارلس کلونوپرله پسي وینو بهولو اودکورودکنډواله کوونکوسره یې کوي نوزه وایم چي رباني صیب دخپلي استعفی دنه ورکولو په مقابل کي مرګ قبلولوته تیاردي بلکي روسي امپراتوري دګټودساتلوپه خاطر دخپل ځان تیریدني ته هم تیاردي .

اوس دي ګران لوستونکي قضاوت وکړي چي داملت له انسانانوڅخه جوړشوي اوکه دقرباني له ګډانوڅخه چي داستاد دخواهشاتولپاره هروخت دقصاب چړي ته ترلي غاړه اینبي وي ؟!!

دجدي دشپږم تاریخ ددردناکي واقعي دغندني په مناسبت دننګرهار دمجاهد اولس پریکړه لیک

بسم الله الرحمن الرحیم

بشریت دسمنه روسانو لس کاله زمونږ ملك دخپلو شومو اهدافو دتحقق په خاطر اشغال اودلته یې دیونیم ملیون انسانانو دککریو په پریکولو سره دوینو رودونه جوړکړل ،خودقادراومقتدر پروردګار په مرسته دشهیدانو پاکو وینو دروسانو په وړاندي یوطوفان جوړ کړ چي دشوروي اتحاد تول امپراطوري یې داسي راونغښته چي دځمکي دصفحي څخه یې دتل لپاره تغروړتول کړ.

موږ دننګرهاراتل اومجاهد اولس په افغانستان باندي دروسانو دسري خور استعمار،بې شرمانه ، ناجایزه یرغل،وحشت اوبربریت ، چور اوچپاول دخوارلسمي کلیزي دغندني په مناسبت خپل پریکړه لیك په لاندي ډول اعلانوو:

۱ - موږ دروسانو نه بخښونکي جرم چي زمونږ ښکلي اوسمسورافغانستان یې په افرادي او تعمیراتي لحاظ په کنډوالو بدل کړي په کلکه غندو.

۲ - دماتي خوړلو روسانوڅخه دخپل ګران وطن دورانولواولمنځه ورلوتاوان چي زموږقانوني حق دي غواړو .

۳ - د وران اوویجاړ افغانستان بیا ودانولو اورغونه، کي داسلامي ملکونو ، ملګرو ملتونو او خیریه موسسو څخه دبې قیداوشرطه مرستي غوښتنه کوو.

٤ - د روانو جګړو اوشخړو په هکله دعاجل اوفوري اوربند غوښتنه ،اوپه دي هکله دټولو اسلامي ملکونو ، اسلامي تحریکونو ، اسلامي کانفرانس ،اوپه خصوصي دول دګاوندیو ملکونو په شمول دننګرهاردجهادي شوري څخه دمنځګړتیامطالبه کوو.

٥ - دروغي جوړي په هکله دجلال آباد تاریخي ترون چي دننګرهار دجهادي شوري دهلو ځلو اوابتکارپه نتیجه کي رامینځ ته شوي عملي کول غواړو.

٦ - موږدخپلو مجاهدو مشرانو اوقوماندانانو څخه دواقعي اسلامي نظام دپیاده کولو او تنفیذ مطالبه کوو.

۷ - داسلامي حکومت لپاره دجهادي تنظیمونو په مرسته دقوي پوځ جوړولو غوښتنه کوو.

۸ - په موجوده نظام کي دکمونستانو،نامطلوبه کسانو ، اومشتبه خلکو خلع سلاح اوخلع صلاحیت کیدل غواړو.

۹ - دفلسطین ،کشمیر ،بوسنیا اومنځني آسیا دآزادي غوښتونکومسلمانو جنګیالو په شمول د دنیا دمظلومو پرګنو دحقه حقوقو څخه په کلکه دفاع اوپدي رابطه هرراز سربښندني ته چمتو یو.

۱۰ - دافغانستان په داخلي چاروکي دفساد په خاطر هیچا ته دمداخلي اجازه نه ورکوو.

والله علی مانقول وکیل .

کشورهای جهان سوم

قسمت دوم: عدیل

ازجانب دیگر بخاطرتنازعات سرحدي روابط هند، پاکستان وچین هم همیشه خراب بوده است . وازگذشته هاي دوربه اینسو درنتیجه ناکامي هاي مکررمذاکرات درموردحل این تنازعات وبرخورد هاي مقطعي بین نیروهاي نظامي طرفین درسرحدات بین دوکشور، رنجش برحسن نیت وحسن همجواري غالب بوده واین دوکشورهمدیگررا دشمن میدارند، بنابرآن کشورهند باوجود مشکلاتیکه ازناحیه کثرت نفوس وکمبود پیداوار دارد، توجه فوق العاده یي به تقویت نیروي نظامي خویش مبذول داشته واین امررا بخاطر حصول تفوق نظامي برمخالفین هم سرحدش ناگزیر تلقي مي نماید روي همین ملحوظ پیشرفت وترقي صنعتي این کشوردربخش هاي غیرنظامي یعني تولیدوایجادوسایل اجتماعي وعام المنفعه به هیچصورتي باتوانایي این کشوردر تولید افزارووسایل نظامي قابل مقایسه نیست ، چه این کشوردرحالیکه نیروي هستوي دراختیارداشته بیشترازیك ملیون فوج وبهترین وجدیدترین سلاح هاي عصري اعم از آنکه درداخل کشور تولیدنموده ویاازکشورهاي بزرگ چون روسیه و ... وارد نموده است ،دردسترس دارد ، مردم بیچاره این کشوردرمنتهاي فقر، بیکاري ، بیسوادي وبي خانماني بسرمي برند ودربرابرواردات ازبیرون ،صادرات این کشورکلاً ناچیزوضرب درصفراست .

ضمناً درپهلوي وجوهات فوق که زمامداران هندبه بهانه آن خودرا ناگزیربه تقویت نیروي نظامي میداند وبنابرآن باکمال توجه وطرف توانایي دربي تدارك وسایل نظامي است، یك سلسله کشمکش هاي دیگرداخلي هم که ناشي ازحس تفوق طلبي وانتقام جویي هندوهاست ، زمام داران این کشوررا که هندوهستند وبخاطر قرارداشتن تحت سیطره مسلمانان وسك هادرطي قرون متمادي عقده هایي بدل دارند، واداشته که کشورهندرا قبل ازآنکه ماواي صلح ، امنیت واستحکام معیشت براي مردم این کشوربسازد، به گدام سلاح هاي کشنده ، مخرب وتباه کن تبدیل نمایند .

گذشته ازمسایل متعددیکه اوضاع هندرابه بحران کشانده و سیلي ازفشارمشکلات ومصایب رادامنگیر آن ساخته است ، سه مسئله خیلي مهم دیگرکه فعلاً هند باآن دست وگریبان است قیام مسلمانان درکشمیر، تلاش سکهابراي تشکیل حکومت مستقل خالصتان وعکس العمل مسلمانان هنددربرابر جنایات هندوهاي متعصب مي باشد.

بایدتذکرداد که عامل اصلي این ناآرامي هادرهندهم ناشي ازاهداف غرض آلودوتوسعه طلبانه هندوهادرقبال ملیت هاي دیگرساکن هندوکشورهاي همسایه است . چه این کشوربه خاطراهداف سوء اقدام به تولید ووارد نمودن سلاح نموده وامروز هندوها بنابراعتماد به همین قدرت نظامي بردیگران میتازند و بخاطرنابودي واستثمار ملیت هاي دیگرساکن هندمي شوندوهمچنان بدون درنظرداشت فیصله هاي بین المللي ورعایت حسن همجواري نه اینکه باهمسایه هاي خود به مذاکره وتفاهم حاضرنمي شود تاعوامل دشمني ودرگیري به طریق صلح آمیزختم شود ،بلکه باواردنمودن اتهام مداخله درمسایل داخلي کشور خویش به اختلافات مزید دامن میزنند .

